نړیوال بانك
له بې وسۍ فقر او غربت څخه ژغورلي
نړۍ ته د رسيدلو لپاره هلې ځلې

**خبرۍ خپرونه**

| اړيکي: نړيوال بانک په کابل کی: عبدالرووف ضيا ۷۰۰۲۸۰۸۰۰ (۹۳) Azia@worldbank.org نړيوال بانک په واشنگتن کی: اريك نورا ۴۵۸ ۴۷۳۵ (۲۰۲) enora@worldbank.org | شمېره: SAR |
| --- | --- |

# نړیوال بانك په افغانستان کې د کوچنیو پورونو د دوام موندنې لپاره وړیا مرسته ورکوي

**واشنگټن، ډي سي، د ۸۲۰۰م کال د جنوري د میاشتې ۸مه-** نړیوال بانك نن د ۳۰ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت وړیا مرسته منظوره کړه ترڅو د کوچنیو پورونو د ورکوونکو موسساتو له لارې چې د افغانستان په ډیری ولایتونه کې د زیات شمیر بیوزله افغانانو په خاصه توګه در ښځو د مالي اړتیا او غوښتنو په پوره کولو کې بریالی اوسیدلی دی، مالی خدماتو ته پراختیا ورکړل شی.

د کوچنیو پورونو د لاس رسي د پراختیا او د دوام موندنې د پیاوړتیا پروژه به ددې لامل شي ترڅو د ټول هېواد بېوزله خلك پورونو ته ښه لاس رسی ولري او د کوچنیو پورونو د و کړي خدمتونو د مؤسس‌اتو توان زیات شي ترڅو پر ځان تکیه وکړي. د افغانستان د کوچنیو پورونو مؤسسو لاوړاندې د خپلو وجهو تنوع پیل کړې ده او د هغه وجهو سربېره چې د حکومت او تمویل کوونکو ادارو له خوا برابرېږي، اوس یې سوداګریزې سرچینې هم پکښې شاملې کړې دي.

*"نړیواله تجربه ښیي چې کوچني پورونه د خلکو پر ژوندانه ژوره اغېزه لري چې هغوی ته کوچنیو تشبثاتو د جوړولو توان ورکوي او د هغوی د عوایدو د تل پاتې زیات والي لامل ګرځي".* نوموړی مطلب **ستېفن راسموسن چې د مالي چارو مشر متخصص او ددې پروژې د ټیم مشر دی،** څرګند کړ او زیاته یې کړه، " په تېرو څلورو کلونو کې د کوچنیو پورونو وده د افغانستان د پام وړ پرمختګونو له ډلې څخه ده. په یوه داسې هېواد کې چې رسمي تمویلي وجهې په خورا ټیټه کچه د پانګه اچونې لپاره برابرېږي، د کوچنیو پورونو پروګرام خپل توان ښودلای دی چې کولای شي بېوزلي راټیټه او په ټول هېواد کې د بېوزله کسانو لپاره اقتصادی فرصتونه او کارموندنه منځ ته راوړي."

د نړیوال بانك د وړیا مرستې موخه **د بېوزلۍ د کمولو لپاره د کوچنیو پورونو** د اوسنۍ **پروژې** د دوام وړتیا ده چې د افغانستان د بیارغوني د صندوق له لارې تمویلیږي. نوموړې پروژې په ۲۰۰۳ کال کې د خپل پیل له مودې راهیسې د پام وړ پرمختګ کړی دی او د ۱۰۰ میلیونه امریکایی ډالرو په ارزښت وجهې یې چې ۶۹،۲۹ میلونه یې پورونه وو، برابر کړې دي. اوس د کوچنیو پورونو ۱۵ مؤسسې چې د هېواد په ۲۳ ولایتونو کې ۲۴۹ فرعي څانګې لري، شته دي چې تر ۴۱۰۰۰۰ څخه زیاتو مراجعینو ته یې خدمتونه برابر کړي دي. د هغوي د مراجعینو په سلو کې ۷۰ کسان ښځې دي او د پورونو د بېرته ورکونې کچه په سلو کې ۹۵ ده. یاده شوې پروژه توانېدلې ده چې د تمویل کوونکو د وړیا مرستو اومراجعینو ته د ورکول شویو پورونو د تادیاتو څخه په ګټه اخستنې سره داسې پورونه ورکړي چې میاشتنۍ ارزښت یې د ۲۰۰۳ کال څخه راپدېخوا په منځنۍ توګه ۱۵ میلیونه امریکایی ډالرو ته رسیږي او هره میاشت یې په مشتریانو کې د لسو څخه تر پنځلسو زرو تنو پورې زیاتوالۍ راغلی دی. د کوچنیو پورونو پروژو له کبله تقریباً ۶۰۰،۰۰۰ افغانانو ته د کار زمینه برابره شوی ده چه دا شمیره د دولت د کارکونکو په پرتله دوه برابره ده. د نړیوال بانك منظورې شوې وجهې به نوموړی پروګرام وتوانوي تر څو پراختیا ومومي او په دې توګه د هېواد په ډېرو ولایتونو کې تر ټولو زیاتو بېوزلو کسانو ته لاس

رسی ولري. یاده شوې پروژه د هېواد د کوکنارو د کرکيلې په هغه اوو ولايتونو کې چې د حکومت له خوا په نښه شوی دي، د مشروع اقتصادي فرصتونو د پیاوړتیا لپاره هم پراختیا مومي.

د امنيتي ستونزو او د لګښتونو د پرله پسې فشارونو سره سره، د افغانستان اقتصادی اصلاحات او د بیاجوړونې هڅې ددې لامل شوې دي ترڅو د هغه هېواد رسمي مالي سکتور چې د ۱۹۹۰ مې لسيزې په منځنیو کلونو کې له منځه تللی وو او د مرکزي بانك تر لمړنيو چارو پرته هيڅ ډول بانکي خدمتونه وو، بیا ورغوي. اوس بانکي سکتور ۱۵ سوداګريز بانکونه لري. ۱۲ بانکونه يې خصوصي دي چې په دې ډله کې ۶ يې د افغانانو ملکيت دي او پاته درې بانکونه يې دولتي دي. خو بیا هم د بانکدارۍ د سکتور پرمختګ په خاصه توګه د پانګې اچونې د تمويلي وجهو په برابرونه کې محدود پاتی شویدی چې د قانون دحاکميت اوسنۍ حالت او د منځنیو او لويو تشبثاتو مقرراتي چاپېريال يې د لاملونو له ډلې څخه دي. بانکي عملیات په ډېری توګه په ښاري مرکزونو پورې محدود دي او د وېشنې شبکه چې ۹۰ څانګې لري، محدوده ده.

له هغه ځایه چې د تمويلي وجهو د لاس رسي ښه والی د ښېوزلۍ له کمولو سره اړیکه لري، نو حکومت په ۲۰۰۳ مېلادي کال کې د افغانستان لپاره د کوچنیو پورونو د پانګه اچونې د ملاتړ مرکز د یوې داسې وسيلې په حيث جوړ کړ تر څو د مالي سکتور د ټيټې برخې د اوچتولو په موخه د حکومت او تمويل کوونکو مرجع ګانو د وجهو د تنظيم لپاره وکارول شي. نوموړي مرکز د تمويل کوونکو وجهې همغږې کړې ترڅو د لمړيتوبونو توپیر د هڅو د تکرار او د بازارونو د انحراف لامل ونګرځي. نوموړي مرکز د کوچنیو پورونو د مؤسسو سره مرسته وکړه ترڅو په کار پیل وکړي او د افغانستان د پرمختګ او همدارنګه د راپور ورکونې د رڼو سیستمونو او په خپلو چارو کې د حساب ورکونې د کلتور د منځ ته راتګ لپاره په چټکۍ سره پراختیا ومومي.

دا وړیا مرسته د نړیوالې پراختیا د ادارې له خوا چې د نړیوال بانك د امتیازي پورونو څانګه ده، برابره شوې ده. یاده شوې پروژه به د ماليې د وزارت له لارې اجرا شي چې د نړیوالې پراختيا د ادارې وړيا مرسته به د پور په شکل د افغانستان لپاره د کوچنیو پورونو د پانګه اچونې د ملاتړ مرکز ته ورکړي. د افغانستان لپاره د کوچنیو پورونو د پانګه اچونې د ملاتړ مرکز به تطبیق مرجع وي چې د دې پروژې وجهې به د کوچنیو پورونو او مالی خدمتونو برابرونکو موسساتو بیا د پور په ډول ورکړل شي.

په افغانستان کې د نړیوال بانك د چارو په هکله د نورو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره دی انټرنټي سايټ ته ولاړ شی:
http://www.worldbank.org.af

د افغانستان د بیاجوړونې د صندوق په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره لاندې سايټ کتلای شی:
http://go.worldbank.org/DMPN6W82R0

د کوچنیو پورونو د لاس رسي د پراختیا او د دوام موندي د پیاوړتیا د پروژې په هکله د لاژياتو معلوماتو لپاره لاندې پاڼه کتلای شی:
http://www.worldbank.org.af/external/projects/main?pagePK=64283627&piPK=73230&theSitePK=305985&menuPK=306018&Projectid=P104301